مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۰۷/۱۹

غزل

ای د سولی د سفر؛ کاروانه راشه

اې د سولې د سفر، کاروانه راشه
تل له موږ نه مرَور، کاروانه راشه
د نفرت وچه صحرا کې مې پرېږدې
محبت وشیندې زر، کاروانه راشه
خپله وګوره د جنګ ثمر دې څه دی؟
په لر وګرځه په بر، کاروانه راشه
چې له دین او له قرآن نه دې خبر کړم
اې له خدای نه نا خبر، کاروانه راشه
تور لوګي دي ساه مې بنده، بنده کېږي
راشه ما کړه ترې بهر، کاروانه راشه
پسرلی شه خوشبويي هر خوا خوره کړه
په هر لور شه معطر، کاروانه راشه

ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com